(c) ketabton.com: The Digital Library



وېم چې ستا دنیا هم اوسوزوم ایره کړم
چې دې زهٔ خدایه د زړهٔ په رنځ اخته کړم

دې ناصح ته څو زهٔ هسې په خوله بند کړم
کني څهٔ چې راته زړهٔ وائي هغه کړم

کهٔ سپرلي کښې مې توبه ته نیت خراب شهٔ
د تسبې به بیا واعظ ته حواله کړم

ستا په نهٔ راتلو زهٔ خدائیګو کهٔ خفه یم
څو دې ستورو ته دې ډېر بېګا کچه کړم

مېکده ته څو به مهٔ وایه ناصحه
کني یاده به زهٔ هم ستا مصله کړم

چې لمن مې پرې سالمه پاتې کېږي
ګرېوانونه به زهٔ ټول رېخه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر طرف ته گورم مایوسۍ دي او غمونه دي
گېر چاپېره تاؤ دانه سروتېکي دي اورونه دي

نور دې هم څو ورځې دَ چمن گلونه اوخاندي
څو چې په خندا زما دَ خوږ زړهٔ پرهرونه دي

څومره بختور دي چې پوره يې حسرتونه شو
ستا په تور اوربل کښې په خندا ځکه گلونه دي

اوس خو دَ منزل دَ رسېدو خبره گرانه شوه
اوس خو هر قدم کښې تيندکونه دي دامونه دي

مغموم خو دې حالاتو په ژوندون پورې ستومانه کړو
څومره پرېشانۍ دي گلې څومره ډېر غمونه دي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډمې ته

(په میدان کښې د ډمې د ګډا یوه نقشه ننداره)

ګډه شي ګډېږي په ګډا کښې په خندا شي ته
سر تر پښو ادا شي ته
اوځوړي چوړلکونه هر چوړلک کښې په هوا شي ته
سر تر پښو ادا شي ته

تېښته شي کږه شي په کږه کښې بیا راسمه شي
ډکه له ستمه شي
ډېرې نخرې او کړې په نخرو نخرو بې دمه شي
ډکه له ستمه شي

نرۍ نرۍ ګډېږي ناګهانه په ترپکو شي
سر په کالکوچکو شي
وار درنه خطا شي وارخطا نه په چوړلکو شي
سر په کانکوچکو شي

